مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۱/۰۶/۱۸

# په استخباراتي مدرسو کې

## څه تدریسېږي؟

افغانستان ته په تور ګاونډ کې بداخلاقه استخباراتي مدرسې لوی ګواښ دی.

په ګاونډ کې دغو مدرسو دین یوازې سیاسي نه، بلکې پوځي ـ استخباراتي کړی دی .دوی د دین ماهیت داسې مسخ کړی، چې نور یې د روحاني او رحماني ارزښتونو هېڅ بنسټ ژوندی نه دی ورپرېښی. په استخباراتي مدرسو کې تولید شوې عقیده یعني په خلکو کې د عقایدو د تفتیش پربنسټ قساوت، جنایت، شکنجه، وژل، انفجار، انتحار او بس همدا.

کله چې دین له روحاني ارزښته تش کړلای شي، هلته بداخلاقي، جرم، جنسي ځوروني او د رواني عقدو تراکم د وحشت تر بریده پرمخ ځي. کټ مټ د منځنیو پېړیو د کلیساګانو په شان، چې کشیشانو به خواني بشکلي ښځې تر ګڼ ځله جنسي تیریو او ځورونو روسته په اور کې سېزلې او دلیل به یې دا ګاڼه، چې د هغوی په روح کې شیطان ننوتلی دی.

هماغسې، چې تر رېنسانس وړاندې کلیساګانو سلطنتي کورنیو ته د سیاسي واک و ځواک مشروعیت بښه او د هغوی صلیبي لښکر یې د خدای سرتیري ګڼل، د تورلینګیو حاکمیت هم خپل مشروعیت له همدغو بداخلاقو مفتیانو اخلي. استخبارات یې چې هرځای جنایت کوي، هغه ته د دین پوښ وراغوندي، مدرسې استخبارات او استخبارات مدارس پیاوړي کوي او یو د بل ملاتړ کوي.

په دغو استخباراتي مدرسو کې نور قواعد، نحو، صرف، تفسیر، حدیث، فقه، اصول، کلام، منطق، ریاضي، د میراثو نصاب او حقوق نه تدریسېږي. اوس هلته ماین خښول، ژیړې بوشکې، انترنیتي تبلیغات، انتحار ته رواني ډرامې، د مغزو مینځل، د شخصیت مسخ کول او د وسلو کارول ورزده کوي. هغه تبرایستل شوي زلمکیان، چې نه غواړي دا زده کړي، مفتیان پرې جنسي تیري کوي، ویډیوګانې یې اخلي او په دې توګه یې یرغمل کوي.

هوښیارو افغانانو ته بویه، چې خپل نازولي تنکي ماشومان له داسې بداخلاقه، پوځي او استخباراتي هدو څخه وژغوري. د دغو تش په نامه مدرسو لکۍ په هماغه صلیبي بنسټونو پورې غوټه ده، چې اوس خپلې څو سوه کلنې تیاره تجربې په ختیځ کې پلې کوي.

خبر دې یاست!!!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ